مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سلطان جان کلیوال

۲۰۱۸/۱۰/۲۱

# د قهرمانو ـ شهیدانو یاد

مـړه قهرمانان شول ارمانونـه یی نیمګړی شول — غرونه را ګزار شول منزلونه یی نیمګړی شول
جوړی زلزلي شوی د لوی کور برجونه ولویدل — پورته تر آسـمانه لوړ اوچت سرونه ولویدل
ځمـکی نه رنــګونه د ګلــونو سره وا لو تل — دښتو او درو نه عـقابان بازونه والوتل

هغه زړونـه ودریدل چی ډک له ارمانو، نه وو
مات هغه سرونه شول چی ډک له توفانو، نه وو

سل کرت پری شوی ګـزارونـه د اورونو وو — هر ګزار ته کلک یی د ډبرو نه سرونه وو
چیغي وي ناري وی په دښمن یی یرغلونه وو — لاری وی اغزنی مخکی غرونه ګړنګونه وو
تـل د ننګ ډګر ته اتلان لکه زمریان ور تلل — مخامخ میدان ته د جګړی قهرمانان ورتلل

دا دلـوی وطن بچـي په سختو لارو تلل پسـی
چیرته چی دښمن و په مورچو یی ور ختل پسی

یـو افـغـان که پاتـی وی هم تاسـو هیـروئ نشـی — ستاسو دعزت مورچل دښمن ته پریښوئ نشـی
پیـغـلي د وطـن به مـو په قـبرګلابـونه ږدی — ستاسو په مزار به شاعران خپل کتابونه ږدی
تاسو ژوند قربان کړخو داهیلی ژوندئ پاتی دي — ټولی د ستم خونی بربادی دي میراتي دی

ویاړي به تاریخ دربانـدی دا دلـوی افغان تاریخ
دا د میـروس خان، دابـدالی او د آمان تاریخ

سلطان جان کلیوال
20/18/2018



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ